
د پوهنې وزارت

# د رسامۍ هنر

## لومړی ټولګی





Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی    دا عزت د هـــر افغان دی
کور د سولې کـور د تورې    هر بچی یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی    د بلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو    د ترکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـــر دي    پامیریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي    هم ایمـاق، هم پشه یان
دا هېـــواد به تل ځلیږي    لکـه لمـــر پر شنه آسمان
په سینـه کې د آسیـــا به    لکـه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مو دی رهبـــر    وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

# د رسامۍ هنر

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړتیاوې

**مضمون:** د رسامۍ هنر

**مؤلفین:** د تعلیمي نصاب د هنر برخې د درسي کتابونو مؤلفین

**اډیټ کوونکي:** د پښتو ژبې د اډیټ دیپارټمنټ غړي

**ټولګی:** لومړی

**د متن ژبه:** پښتو

**انکشاف ورکوونکی:** د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

**خپروونکی:** د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

**د چاپ کال:** ۱۳۹۷ هجري شمسي

**د چاپ ځای:** کابل

**چاپخونه:** بهیر مطبعه

**برېښنالیک پته:** curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرليك | مخ |
|---|---|
| د خطونو ډولونه | ۱ |
| د رنګونو پیژندل | ۳ |
| د انځورولو وسیلې | ۵ |
| آزادې کرښې | ۷ |
| منظمې کرښې | ۹ |
| ساده شکلونه | ۱۱ |
| رنګونه | ۱۳ |
| ګل | ۱۵ |
| د ګل رنګول | ۱۷ |
| د پاڼې انځور | ۱۹ |
| د پاڼې رنګول | ۲۲ |
| سابه | ۲۳ |
| مېوې | ۲۵ |
| د مېوو رنګه کول | ۲۷ |
| د هیلۍ انځور | ۲۹ |
| د هیلۍ رنګه کول | ۳۱ |
| کبان | ۳۳ |
| د کب رنګه کول | ۳۵ |
| پیشو | ۳۷ |
| اصلي رنګونه | ۳۹ |
| لاسي کار | ٤۱ |
| کاپي کول | ٤۳ |
| د پاکټ لاسي کار | ٤٥ |
| د کښتۍ لاسي کار | ٤۷ |
| له کاغذ څخه د ګل جوړول | ٤۹ |
| له کاغذ څخه د کوترې جوړولو لاسي کار | ٥۱ |
| د چرګې رسمول | ٥۳ |
| د ګوتو له نښانونو څخه د شکلونو جوړول | ٥٥ |
| دویمه برخه: د ښوونکي لارښود | ٥۷-٦۰ |


(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه


لومړی لوست.

## د خطونو ډولونه

**موخه:** زده کوونکي به د قلم د نیولو او د خطونو له ډولونو سره بلدشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library




# د رنگونو پېژندل

موخه: زده کوونکي به له رنګونو سره بلدتیا پیدا کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انځورولو وسیلې

**موخه:** د انځورگرۍ له وسایلو سره د زده کوونکو بلدتیا او د هغوی پېژندنه.



## پوښتنې

۱- د رسامۍ د وسایلو نومونه ویلی شئ؟


۲- د لاندې شیانو په رسمولو کې له کومو وسایلو څخه کار اخلئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په خپلو ډلو کې د رسامۍ د وسایلو نومونه واخلي



## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو سره د انځورګرۍ د وسایلو او د هغوی د استعمال په اړه خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آزادې کرښې


**موخه: د آزادو کرښو زده کړه او تمرین**



## پوښتنې

۱. په دې مخ کې څه شی وینئ؟


۲. دا کرښې یوه له بلې سره څه توپیر لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې د لاس د حرکت په واسطه او د نقاشۍ په بېلا بېلو وسیلو آزادې کرښې تمرین کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې آزادې کرښې په خپلو کتابچو کې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست


# منظمې کرښې

**موخه: د منظمو کرښو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدېدل؟**



## پوښتنه


۱. کله مو دا ډول کرښې لیدلې وې؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې په انفرادي ډول لاندې کرښې رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپل چاپېریال کې منظمې کرښې وګوري او هغه دې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساده شکلونه

**موخه:** د ساده شکلونو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.




## پوښتنې

۱. لاندې شکل له کوم ډول کرښو څخه جوړ شوی دی؟

۲. ایا ویلی شئ چې په لاندې انځور کې څو ډوله کرښې لیدل کیږي؟



لومړی شکل(۱)




دویم شکل(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په ډلو کې د درسي کتاب له مخې ساده شکلونه چې په آزادو کرښو رسم شوي دي، رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د خپلې خوښې یو شکل رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګونه

موخه: له رنګونو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.



## پوښتنې


۱. د خو رنګونو نومونه اخېستلی شئ؟

۲. کوم رنګ مو ډېر خوښېږي؟

۳. ستاسې کالي کوم ډول رنګ لري؟




شین




سور



نارنجي




سپین



زیړ



تور




آسماني شین

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په خپلو ډلو کې د بېلابېلو رنګونو نومونه واخلي.




## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې په کور کې د کورنۍ له غړو سره په بېلا بېلو رنګونو خبرې وکړي چې معلومات یې زیات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گل


**موخه: په مرحله يې ډول د گل له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**



## پوښتنې

**۱. تاسې په بېلابېلو رنګونو گلان لیدلي دي؟.**

**۲- تر اوسه مو گل انځور کړی دی؟**




(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې ګل په ساده کرښو انځور او تکمیل کړي.



(۳)

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې یو ګل غوره او هغه دې انځور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د گل رنگول


موخه: د گل دانځورولو او د هغه له رنگولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې

۱. گلان کوم رنگونه لري؟


۲. تاسې د گل په رنگولو کې له کوم رنگ څخه گټه اخلئ؟




(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د دریم شکل په شان یو ګل رسم او رنګه کړي، بیا دې هغه بیاتي کړي. بیا دې د خپلې کتابچې پر پوښ ونښلوي.



(۱)



(۲)

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې له خپل چاپېریال څخه یو ګل رسم او رنګه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاڼې انځور


**موخه:** پړاو په پړاو د ونې یا پاڼې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې

۱. کله مو د ونې پاڼه انځور کړې ده؟

۲. د ونې د پاڼې رسمول له کوم پړاو څخه پیلوئ؟




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د ونې پاڼه د ټولګي د تختې او یا د کومې ونې له پاڼې څخه په خپلو کتابچو کې رسم کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه یوه پاڼه انځور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاڼې رنګول


**موخه:** د ونې د پاڼې د انځورولو او د هغه له رنګه کولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.




## پوښتنې

۱- څو ډوله پاڼې موليدلي دي؟

۲-رسم شوې پاڼې يوه له بلې سره څه توپير لري؟




(۱)




(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې لاندې شکلونه رسم او په خپله خوښه دې  رنګه کړي.





## کورنۍ دنده

یوه پاڼه په خپلو کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# سابه

موخه: پړاو په پړاو د کدو او گازرې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه

١. په دې مخ کې څه شی وينئ او له هغو څخه څه گټه اخيستل کيږي؟







(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په ډلو کې د یوه بل په مرسته د کدو او گازرې شکلونه انځور کړي.



(۱)



(۲)



(۱)

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د کدو او گازرې انځور و کاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېوې


موخه: د پنسل په مرسته د ساده شکلونو (ناک او مڼې) له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې

۱- کومې مېوې مو خوښېږي؟


۲- د لاندې شکلو نومونه واخلئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې په انفرادي ډول په خپلو کتابچو کې مڼه او ناک انځور کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې یوه مڼه او یو ناک رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مېوو رنګه کول


موخه: د پنسل او رنګونو په مرسته د ځینو مېوو له رسمولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې

۱. د لاندنیو شکلونو نومونه پېژنئ؟

۲. آیا پوهېږئ چې په لاندېنیو شکلونو کې کوم رنګونه کارول شوي دي؟




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې پورتني انځورونه رسم کړي، بیا دې د هغوی په رنگونو فکر وکړي او په ډېر غور او دقت دې رنګه کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

له پورته شکلونو څخه یو، په کور کې رسم او رنګه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هیلۍ انځور


**موخه:** د هیلۍ له انځورولو سره د زده‌کوونکو آشنا کېدل.



**پوښتنې**

۱- په لاندې شکل کې څه شی وینئ؟

۲- ایا ویلی شئ چې هیلۍ چېرته ژوند کوي؟





(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

پورته شکل ته په ځېرسره وګورئ او بیا د هغه له مخې په ساده خطونو د هیلۍ انځور وکاږئ.





## کورنۍ دنده

یوه هیلۍ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د هیلۍ رنګه کول

موخه: د هیلۍ د شکل له رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنه**

۱. څه فکر کوئ چې هیلۍ څه ډول رنګونه لري؟





۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې هیلۍ رسم او رنګه کړي او بیا دې هغه بیاتي او د رسم په کتابچه کې دې ونښلوي.





۲

## کورنۍ دنده

ټولو پړاوونو ته په پاملرنې سره یوه هیلۍ رسم او رنګه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کبان

**موخه: د کبانو له رسمولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.**



## پوښتنه

**۱. آیا تاسو کبان لیدلي دي؟**




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې لاندیني شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کب شکل انځور او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د کب رنگه کول

موخه: د کب له رنگه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

## پوښتنې

۱- تراوسه مو څو رنگه کبان لیدلي دي؟

۲- آیا تاسو کله کب انځور کړی دی؟




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د رسم پړاوونو ته په ځير وګوري او بيا دې انځور کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې يو ښکلی کب انځور او د خپل ښوونکي له نظره تيرکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیشو


**موخه**: پړاو په پړاو د پیشو له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.



## پوښتنې

۱- آیا تاسو کله پیشو انځور کړی دی؟

۲- تاسو له کوم ځایه د پیشو انځور پیلوئ؟




(۱)


(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

لاندیني شکلونه سره یو ځای کړئ، د پیشو شکل تکمیل او رنګه کړئ.



(۲)



## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې یوه پیشو انځور او ټولګي ته یې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصلي رنګونه


موخه: د اصلي رنګونو له یوځای کېدو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.



## پوښتنې

۱. په لاندېنیو شکلونو کې کوم رنګونه وینئ؟


۲. د زیړ او سور رنګ له یوځای کېدو څخه کوم رنګ لاسته راځي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

په لاندینیو شکلونو کې کوم رنګونه اصلي دي، نومونه یې واخلئ.




## کورنۍ دنده

د کور په لوښو کې یو اصلي رنګ په ګوته کړئ او په ټولګي کې یې نوم واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاسي كار


موخه: د چاپېريال له ساده توکوڅخه د يو لاسي کار له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.



## پوښتنې

۱. کله مو لاسي کار جوړکړی دی؟

۲. تاسو له کومو موادو څخه لاسي کار جوړولی شئ؟




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې مڼه او ناک په ټولګي کې انځور او رنګه کړي او بیا دې هغه د یو بل په مرسته بیاتي کړي او په یوه سپین کاغذ دې ونښلوي او د خپل ښوونکي له نظره دې تیر کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

پورتني فعالیت یو ځل بیا تکرار کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاپي کول


**موخه:** د پاڼې له کاپي کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.




**پوښتنې**

۱. کله مو کوم شکل کاپي کړی دی؟

۲. آیا کولی شئ چې یوه پاڼه کاپي یا ټاپه کړئ؟






(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د ونې یوه پاڼه د کاغذ لاندې کېږدي او د پنسل په واسطه دې هغه د لاندې شکل په شان کاپي کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

په یوه سپین کاغذ کې د ونې یوه پاڼه کاپي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاکټ لاسي کار


**موخه**: د پاکټ له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.




## پوښتنې

۱- کله مو له کاغذ څخه پاکټ جوړ کړی دی؟


۲- له پاکټ څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟



۴



۵




۶


(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه


زده کوونکي دې یوازې د لاندې شکل په شان پاکټ جوړ کړي.



۲



۱



۳

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې په کور کې له کاغذ څخه یو پاکټ جوړ کړي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د کښتۍ لاسي کار

موخه: له کاغذ څخه د کښتۍ له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.



## پوښتنه

۱- کله مو له کاغذ څخه کښتۍ جوړه کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د لاندیني شکل په شان له کاغذ څخه یوه کښتۍ جوړه کړي.



۱



۲



۳

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې په کور کې یوه کښتۍ جوړه او هغه دې خپل وړوکي ورور یا خور ته ډالۍ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له کاغذ څخه د ګل جوړول


موخه: له سپين او يا رنګه کاغذ څخه د ګل له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتيا.




## پوښتنې

۱. کله مو له کاغذ څخه ګل جوړ کړی دی؟

۲. تاسو کله په لاس جوړ شوي کاغذي ګلان ليدلي دي؟




(۵)




(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه


زده کوونکي دې له بېلګې سره سم یو مربع شکله کاغذ قات کړي او د پړاوونو په پام کې نیولو سره دې کاغذ بیاتي او لاس ته راغلی ګل دې رنګه کړي.




(۱)



(۲)



(۳)



(٤)

## کورنۍ دنده

له یوه کاغذ څخه یوګل جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# له کاغذ څخه د کوترې جوړولو لاسي کار

**موخه:** له کاغذ څخه د کوترې له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.




## پوښتنې


۱- کله مو له کاغذ څخه کوتره جوړه کړې ده؟



۴



۵




۶


(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه


زده‌کوونکي دې له پورته شکل سره سم د ټکو له ځایه خپل کاغذ قات او پړاوونه دې په پام کې ونیسي او یوه کوتره دې جوړه کړي.



۱



۲



۳

## کورنۍ دنده

له کاغذ څخه کوتره جوړه او هغه په خپله خوښه رنګه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چرګې رسمول

موخه: د بېلابېلو شکلونو له يوځای کېدو څخه د يوې چرګې له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.



## پوښتنې

۱- په لاندې شکلونو کې څه شی وینئ؟

۲- آیا له لاندېنيو توکو څخه يو لاسي کار جوړ ولی شئ؟




(۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده‌کوونکی دې پورته شکلونه بېل بېل انځور او رنګه کړي او بیا دې هغه بېل بېل بیاتي کړي او په یوه سپین کاغذ دې داسې ونښلوي چې یوه چرګه ترې جوړه شي.



(۲)

## کورنۍ دنده

د چاپېریال له موادو څخه په ابتکاري ډول یوه چرګه جوړه کړئ او ټولګي ته یې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د گوتو له نښانو څخه د شکلونو جوړول

موخه: د گوتو له نښانو څخه د شکلونو له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.



## پوښتنه


۱- د گوتو له نښانو څخه شکلونه جوړولی شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د ګوتو له نښانونو څخه په ګټه اخېستنه بېلابېل شکلونه رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د ګوتو له نښانونو څخه په ګټه اخېستنه یو شکل رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویمه برخه دښوونکي لارښود:**

دریم لوست

(۷) مخ **د رسامۍ د هنر د تدریس لارښود**

لومړي درسي ساعت **(د تدریس وخت دوه درسي ساعتونه)**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **د رسامۍ د هنر وسایل** | |
| **عمومي موخې** | د رسامۍ د هنر د وسایلو پېژندنه او له هغه سمه ګټه اخستل. | |
| **د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | له زده کوونکو هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>• د رسامۍ د هنر له وسایلو سره به بلدتیا پیدا کړي.<br>• د رسامۍ هنر له وسایلو به سمه استفاده وکړای شي.<br>• د رسامۍ هنر له وسایلو سره به مینه پیدا کړي او له هغې په سمه استفاده وکړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، کرکي قلم، تباشیر، مشوانۍ او خط کش. | |
| **د ارزونو لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | له سلام او لنډې احوال پوښتنې وروسته، د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم او د تېر درس یادونه. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کول**<br>**پوښتنه:**<br>-تاسو د رسامۍ د وسایلو نومونه اخیستلای شئ؟ | ۵ دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقه | -د رسامۍ د هنر وسایل پر تختې رسم کړئ او د هغې په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>-د رسامۍ د هنر وسایل او د هغې د استعمال د لارو چارو په اړه معلومات ورکړئ.<br>-د رسامۍ د وسایلو د نومونو په اړوند هغوی ته معلومات ورکړئ او د هغوی پوښتنو ته ځواب ورکړئ.<br>- د دوی کارونه واروئ. |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دي او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي.

**کورنۍ دنده**: د رسامۍ هنر د څو وسایلو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**اضافي معلومات**

ماشومان په لومړۍ دوره کې له (۱-۳) کلونو پورې د دوی له عمرسره سم مینه لري چې د رسمولو له لارې رنګول او له ساده سیمه ییزو موادو څخه، لکه: ګل، لرګي او بېلابېلو کاغذونو څخه، هغه څه چې په ذهن کې لري، جوړوي.

د لومړۍ دورې ښوونکي ته څرګنده ده چې زده کوونکي له ۱۵-۳۰ دقیقو پورې یو کار به ډېره مینه ترسره کوي، خو له دې څخه زیات وخت کې یې ورو ورو مینه کمیږي، په دې صورت کې به د کار دوام ګټه ولري، خو ځینې وختونه زیانونه هم لري.

ماشومان په (۷-۹) کلنۍ کې ډېر وخت له ځان سره مصروف وي، په دې معنا چې ټول شیان له خپلې خوښې سره سم غواړي، له دې امله هغه کار چې ورته په ګوته کیږي، که چېرې د ماشوم او د ماشوم کورنۍ له ژوند او چاپېریال سره سمون ولري، په دې صورت کې ماشوم په پوره مینې او علاقې سره هغه ترسره کوي او په چټکۍ سره زده کړه ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱) مخ　　　　**د رسامۍ هنر د تدریس لارښود**

لومړی درسي ساعت　　　　**(د تدریس وخت دوه درسي ساعتونه)**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **منظم خطونه** | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي به منظم خط او د هغې له رسمولو سره اشنا شي. | |
| **د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | له زده کوونکو هیله کیږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• زده کوونکي به د رسامۍ او رنګولو له طریقو سره آشنایي پیدا کړي.<br>• زده کوونکي به منظم خطونه وپېژني.<br>• زده کوونکي به د منظمو خطونو له رسمولو سره مینه پیدا کړي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړې فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، کرکي قلم، تباشیر، مشوانۍ او خط کش. | |
| **د ارزونو لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | سلام اچول، پوښتنه د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کول**<br>**پوښتنه:**<br>-کله مو منظم خطونه رسم کړي دي؟ | ۵ دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| -منظم خطونه دې پرتختې رسم او د هغې د رسمولو لارې دې په عملي ډول زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br><br>- د منظمو خطونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ چې هغوی په خپلو کتابچو کې یو آزاد خط رسم کړئ.<br><br>- د هغوی کارونه اصلاح کړئ.<br><br>- د دوی پوښتنو ته ځواب ورکړئ او مشکلات یې حل کړئ. | ۳۵ دقیقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دی او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي.

**کورنۍ دنده**:په خپلو کتابچو کې له منظمو خطونو څخه یو رسم کړئ او ټولګي ته یې راوړي.

**اضافي معلومات**

۱-ماشومان د منظمو خطونو رسمولو او لاسي کارونو جوړولو ته وهڅوئ، هڅه وکړئ چې په هغوی کې ځینې مفکورې تحریک کړئ چې پرمختګ وکړي.
ځینو فابریکو او سیمو ته.

۲- سیر علمي، د کتابتونونو لیدلو او د ځینو کیسو ویلو ته هغوی وهڅوئ او انګیزه یې راوپاروئ.

۳-کله چې ماشومان تیار شول، هغوی پربږدئ چې هر څومره ژر خپل هنري کارونه پیل کړي.

٤-په نوښتګرو کارو کې د نورو مضمونونو له موضوعګانو څخه ګټه واخلئ.

٥-د نوښت او د مفکورو د پرمختیا او پراختیا لپاره په ټولګي له خبرو اترو کار واخلئ.

٦- هغوی بوخت وساتئ او هغه خنډونه چې د دوی د کار په وړاندې پراته وي، له مخې لرې کړئ.

۷-له نیمګړتیاوو او محدودیتونو یې باید خبرتیا ولرئ، داسې شرایط ورته برابر کړئ چې د دوی د پرمختیا سبب شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**